رسول الله صلى الله عليه وسلم به د لمانځه د پرانيستې پر مهال خپل لاسونه د اوږو په برابرۍ پورته کول،

له ابن عمر رضى الله عنهما څخه روايت دى چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د لمانځه د پرانيستې پر مهال خپل لاسونه د اوږو په برابرۍ پورته کول، او کله به يې چې د رکوع لپاره تکبير وايه او کله به يې چې له رکوع څخه سر پورته کاوه همدا رنګه به يې دواړه پورته کول او ويل به يې: «سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ» " الله د هغه چا ثنا واوريده چې د هغه ستاينه يې وکړه، اې زمونږه ربه تا لره ستاينه ده» او د سجدې پر مهال به يې داسې نه کول.

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به د لمانځه پر مهال خپل لاسونه اوږو ته مخامخ يا د اوږو برابر پورته کول، (اوږه) هغه ځای دى چې داوږې او بازو هډوکي سره يو ځای کيږي. لومړى مقام: کله چې په تحريمه تکبير سره د لمانځه پرانيسته کوي. دويم: کله چې د رکوع لپاره تکبير وايي. دريم: کله چې له رکوع څخه سر پورته کړي او ووايي: سمع الله لمن حمده ربنا ولک الحمد. د سجدې په پيل کې به يې لاسونه نه پورته کول او نه به يې د پورته کېدو پر مهال.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3095